دغه رنگ مو تاسي غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

الهی فرمان

منافقان تګي کوي له الله سره، او الله سزا ورکوونکی دی دوی ته (ددوی د تګی په سبب) هر کله چې پاڅیږي دغه منافقان لمانځه ته نو پاڅیږي سست کاهلان، ښئ دوی خلکو ته خپل ځانونه چې موږ هم مسلمانان یو، او نه یادوي دوی الله مګر لږ، د خان ښودلو په خاطر. دوی متردد دي په منځ د ایمان او کفر کې، (نه بیخي له مؤمنانو سره دي او نه بیخي له کفارو سره) او الله چې څوک ګمراه کړي نو له سره به ونه مومې ته، هغه لپاره د حق لاره. (النساء، ۱۴۲ - ۱۴۳)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پر هغه ذات مې قسم چې دهغه په قبضه کې زما روح دی، تاسې به خامخا خلکو ته د نیکی حکم کوئ او له بدو کارونو څخه به منع کوئ، د کم عقلو لاسونه به نیسئ چې هغوی پر چا تیرې ونه کړي، او د حق په لوری به اړوئ که نه الله تعالی به ستاسی د ځینو خلکو له کبله ستاسی د نورو خلکو زړونه هم مړه کوي، بیا به پر تاسو داسې لعنت کوي لکه څنګه چې د بني اسرائیلو پر خلکو یې لعنت کړې و. (ابو داود، ترمذي)

شهادت دویم کال، ۲۲ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د چنګاښ ۲۳ مه د ۱۴۳۱ هـ ق د شعبان المعظم ۲ مه د ۲۰۱۰ م د جولای ۱۴ مه

PROPERTY OF ACKU

قرار است حامد کرزی از ملل متحد حذف نام ۵۰ طالب از فهرست سیاه را تقاضا کند

واشنگتن، رسانه ها:
واشنگتن پست گزارش می دهد که قرار است، حامد کرزی رییس جمهور افغانستان از ملل متحد تقاضا کند تا اسمای ۵۰ تن از اعضای طالبان را از فهرست سیاه این سازمان حذف نماید.
گزارش از قول یک مقام برجسته دولت افغانستان می نویسد که این ۵۰ نفر یک چهارم کل فهرست سیاه ملل متحد را در رابطه به اعضای طالبان تشکیل می دهد.
در فهرست سیاه ملل متحد نام های ۱۳۷ تن از اعضای طالبان درج است.
به گزارش روزنامه حد اقل پنج تن شامل این فهرست، مقام های سابق طالبان اند که در حال حاضر یا در پارلمان عضویت دارند و یا در تلاش ها برای میانجیگری میان حکومت افغانستان و جنگجویان طالبان دخیل اند.
گزارش می نویسد، این مقام ارشد افغان که از افشای نامش خودداری کرده گفته است که رییس جمهور حامد کرزی حذف نام ۳۰ تا ۵۰ تن از طالبانی ....

بقیه در صفحه ۴

تېره میاشت تر زړو زیات ملکي وګړي وژل شوي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د حقوقو د څار ادارې د دوشنبې په ورځ وویل، سږ کال، له ۲۰۰۱م کال راهیسې د افغانستان لپاره ډېر خونړی دی، د نا امنیو له زیاتېدو سره جوخت، م
لکي تلفات هم زیات شوي. په تېرو شپږو میاشتو کې تر زرو زیات ملکیان وژل شوي.
دغې ادارې ویلي په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو له زیاتېدو سره هم د طالبانو په مشرۍ تاوتریخوالی نه دی کم کړی.
د افغانستان د حقوقو د څار ادارې یا ARM په خپل یوه راپور کې ویلي، ۲۰۱۰م کال د طالبانو د رژیم تر نسکورېدو وروسته تر ټولو خونړی دی، نه یوازې امنیتي پېښې ډېرې شوي، بلکې د تاوتریخوالي په نتیجه کې تلفات هم ورسره په ډراماتیک ډول زیات شوي.
راپور وایي، د روان میلادي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې تقریبا ۱۰۷۴ ملکیان وژل شوي او ۱۵۰۰ نور ژوبل شوي، حال دا چې د تېر کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو شمېر ۱۰۵۹ و.

پاتې ۴ مخ

د بهرنیو ځواکونو په خپلسرو عملیاتو کې شهید شوي وګړي

ګل آغا شېرزي او حاجي نصرت د کرزي په مخ کې ناندرۍ وهلي

ټول افغان:
ټول افغان ته باوري سرچینو د نوم د نه یادولو په شرط ویلي دي چې په ننګرهار کې د والي ګل آغا شېرزي او د ننګرهار د ولایتی شورۍ د رئیس حاجي نصرت الله تر منځ د اختلافاتو واټن مخ په زیاتېدو دی.
د حاجي دین محمد زوی حاجي نصرت الله دا مهال د ننګرهار د ولایتي شورا مشر دی. نوموړي او کورنۍ یې په ولسمشریزه ټاکنو کې ولسمشر حامد کرزي ته پراخ کمپاین وکړ.
سرچینه وایي چې د دواړو خواوو ترمنځ اختلافات دومره ډېر شوي دي چې کابل ته د ولسمشر کرزي د منځګړتوب لپاره هم تللي وو. په کابل کې ولسمشر کرزي د دواړو خواوو شکایتونه واورېدل چې حاجي نصرت په کې په ګل آغا مخامخ تېزې نیوکې هم وکړې، خو ولسمشر کرزي له دواړو خواوو وغوښتل چې په شریکه کار وکړي.
په وروستیو کې د ننګرهار امنیتي وضعیت

پاتې ۴ مخ

امریکا د ستراتیژیکې ماتې بدیل دا دی چې افغانستان تجزیه شي

ټول افغان:
یو شمېر افغانانو د امریکایي ډیپلوماټ هغه څرګندونې په کلکه وغندلې، چې ویلي یې وو، افغانستان دې تجزیه شي، دوی وایي ددې نظر لرونکي خلک په استخباراتي کړیو پورې تړلي دي، اوهڅه کوي چې افغانستان اوافغان اولس سره ببل کړي.
په هند کې د امریکا پخواني سفیر رابرټ بلک ویل د امریکا حکومت ته وړاندیز کړی، چې افغانستان دې موقتاً په دوو برخو وویشي. د جنوب پښتني سیمې دې پرېږدي او د کابل په شمول شمال او لوېدیځ دې د دغو سیمو د اوسېدونکو په همکارۍ وساتي.
نوموړي ویلي، په افغانستان کې د امریکا له
کلونو - کلونو ناسمې پالیسۍ وروسته د دغه هیواد له کړکیچ څخه د وتلو لپاره اسانه، چټکه او بې لګښته لار نشته، خو له ټولو ستونزو سره سره د امریکا لپاره د ستراتیژیکې ماتې تر ټولو

پاتې ۴ مخ

د کومو مواصفاتو خاوندان ولسي جرګې ته د خپلو استازو په توګه واستوو؟

دویم مخ

ناټو ځواکونو دتریاکو ترڅنګ په جوارو هم بندیز ولګاوه

کونړ، رسنۍ:
د کونړ ولایت د یو شمېر سیمو اوسېدونکي شکایت کوي، چې نړیوالو ځواکونو ورته د سړک له غاړې سره نږدې د جوارو د نه کرولو امر کړی دی. د وټپور ولسوالۍ څو تنو اوسېدنکو وویل، نړیوال ځواکونه وایي، د جوارو په کروندو کې وسلوال طالبان کمینونه نیسي، نو ځکه خو باید د سړک پر غاړه او پوځي مرکزونو ته نږدې ونه کرل شي.
دوی وایي، له څو ورځو راهیسې نړیوال ځواکونه، د نظامي مرکزاو سړک سره په نږدې پرتو ځمکو کې هغه ځایونه خلکو ته په ګوته کوي، چې چېرته باید جوار ونه کرل شي.
د وټپور اوسېدونکي وایي، چې د تیرو څلور کالو څخه نړیوالو ځواکونو د دوی په کرنیزو ځمکو کې نظامي مرکز جوړ کړی او تراوسه یې په بدل کې دوی ته څه نه دي ورکړل شوي.
د کونړ د نورو سیمو اوسېدونکې هم وایي، چې دوی ته په داسې حال د جوارو د نه کرلو امر شوی، چې د هېواد د نورو ولایتونو په پرتله، کونړیان لږې کرنیزې ځمکې لري او

پاتې ۴ مخ

خروج قبل از وقت از افغانستان، باعث بازگشت طالبان در قدرت خواهد شد

دیلی تیلیگراف:
منشی عمومی ناتو در تازه ترین اظهاراتش گفته است، طالبان بحث های سیاسی در کشورهای را که به افغانستان عسکر فرستاده اند از نزدیک دنبال می کنند و در صورتیکه آنها به مخالفت های سیاسی در غرب پی ببرند، به حملات بیشتر علیه نیروهای بین المللی تشویق خواهند شد.
اندریس فوگ راسموسن در صحبت با روزنامه بریتانیایی دیلی تیلگراف هم چنان از کشورهای که در افغانستان حضور نظامی دارند خواسته تا عساکر خود را تا زمانیکه به آنها نیاز است، در افغانستان نگهدارند.
وی می گوید:
"ما می توانیم امیدواری و انتظار های داشته باشیم، اما هیچ گونه تاریخ و یا سالی را برای خروج نیروهای بین المللی از افغانستان ضمانت کرده نمی توانیم."
او هم چنان هشدار داد که هر گونه خروج قبل

بقیه در صفحه ۴

د کابل ۵ میلیونه نفوس او د ماشومانو یو روغتون

کابل، رسانه ها:
نن سبا په هېواد کې د هوا د ګرموالی له امله، ګڼ شمېر ماشومان په ناروغیو اخته شوي دي. د کابل په روغتونونو کې اکثره ناروغان همدغه کم عمره ماشومان دي.
خلک وایي، په کابل کې د ماشومانو د درملنې یوازې یو روغتون شته، چې ماشومو ناروغانو ته کفایت نه کوي.
ډاکتران وایي، دا ناروغی هر کال د ګرمۍ په موسم کې پیدا کیږي او دوی یې درملنې ته تدابیر نیولي دي.
په افغانستان کې د ګرمي د زیاتېدو له امله، په مرکز او ولایتونو کې ګڼ شمېر ماشومان په ناروغیو اخته شوي دي.
د کابل ښار په روغتونو کې هره ورځ په سلګونو خلک لیدل کیږي، چې ناروغ ماشومان یې، معاینې او درملنې ته راوستي وي.
دوی وایي، په خصوصي روغتونونو کې د فیس له زوره نه دي او یو دولتي روغتون د ناروغو ماشومانو معاینو او درملنې ته کافي نه دی.
د کابل د ماشوم د روغتیا د انستیټوټ مخې ته دوو تنو د دوی ستونزه داسې په ګوته کړه:
"زمانوم مطیع اله دی، ماشومان په دې

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

سرلیکنه

د اسلامي هېوادو د سرتیرو راتګ به جګړه پراخه کړي

د ناټو سرمنشي انډرس فوغ راسموسن څو ورځې مخکې د بلجیم په پلازمینه بروکسل کې، د عربي هېوادونو له یو شمېر خبریالانو سره په لیدنه کې له اسلامي هېوادو غوښتنه وکړه چې د افغانستان امنیت او بیارغاونې لپاره دې ته ولېږي.

چې دې سره به افغانستان د خلکو دا ناسم ذهنیت هم لرې شي چې په دغه هېواد کې روانه جګړه د اسلام پر ضد ده.

راسموسن چې له اسلامي هېوادو څخه افغانستان ته د عسکرو لېږلو کومه غوښتنه کړې، کېدای شي دا دهغه شخصي نظر وي نه د ناټو غړو هېوادو نظر، کیدای شي د اسلامي هېوادو مشران د ناټو سرمنشي دغې غوښتنې ته منفي ځواب ووایي او خپل سرتېري افغانستان ته ونه لېږي، خو که چېرې اسلامي هېوادونه افغانستان ته خپل سرتیرى ولېږي نو آیا ددې امکان شته چې حالات د ناټو په ګټه تمام شي؟ ! آیا د خلکو په منځ کې دا ناسم پوهاوې به لرې شي چې په دغه هېواد کې نهه کلنه روانه جګړه د اسلام پر ضد ده؟

که چېرته د افغانستان روانو سیاسي حالاتو ته ځیر شو نو داسې ښکاري چې د اسلامي هېوادو د سرتېرو په راتګ افغانستان کې کوم مثبت بدلون رانشي ځکه چې د اسلامي هېوادو د عسکرو په راتګ سره به له بهرنیو ځواکونو سره د جګیدونکو عناصرو دا ذهنیت کله هم ختم نشي چې په افغانستان کې دهغوی په خلاف روانه جګړه د اسلام په خلاف ده. بلکې دهغوی په زړونو کې به دا تأثر لازیات شي چې له اسلامي هېوادو څخه راغلي سرتیري هم د امریکا او ناټو ځواکونو ملګري او دهغوی د ملاتړ لپاره راغلي دي، او لکه څنګه چې بهرني ځواکونه د زغملو نه دي او پرخلاف چې وسله وال پاڅون فرض دی همداسی ددوی په خلاف هم جهاد فرض دی، افغانستان ته د اسلامي هیوادو د سرتیرو په راتګ سره به نه یواځی دا چې په افغانستان کې څه مثبت بدلون تر ستر ګو نشي بلکې ددې خبرې هم امکان شته چې کومو اسلامي هېوادو خپل سرتیري افغانستان ته استولی دي هلته هم د حکومتونو په خلاف مخالفتونه او مقاومتونه سراوچت، او ګډوډي رامنځ ته شي. د جنګ لمبه پراخه او په ټولو اسلامي هېوادو کې په امنیت له ګواښ سره مخامخ شي.

د ناټو سرمنشي چې له اسلامي هېوادو څخه افغانستان ته د خپلو د سرتیرو د لیږلو کومه غوښتنه کړې دا یو سطحی او له ژور غور نه عاري نظر دی، په دې کې د ګټې پر ځای نقصان دی، پاکستان هم یو اسلامي هېواد دی چې امریکا ته یې پوځي اډې ورکړي دي او ستراتیژي همکاري ورسره لري مګر د پاکستان په دغه اقدام د ګټې پر ځای تاوان کړې، ددې پر ځای چې پاکستاني ولس د خپل حکومت ددغه اقدام ملاتړ وکړي اکثریت وګړي یې د حکومت په خلاف وسله راخیستې او د امریکا ګوډاګی ورته وایي. پخپلو ستر ګو وینو چې هلته د حکومت په خلاف د پاکستان په هر ښار او هره دره کې مقاومت مخ په زیاتیدو دی، د پولیس او پوځ پر بیر کونو، څوکیو او قطارونو مر ګوني بریدونه کیږي، حکومت د اولس له ملاتړ نه محروم دی، ولس پر حکومت فشار اچوي چې حکومت دی د امریکا او ناټو جنګ په پاکستان کې پرمخ نه وړي، دهغوی له ملاتړ او ملګرتیا دې لاس په سر شي تر څو په پاکستان کې د بمي بریدونو او انتحاري حملو مخه ونیول شي، هغه امریکایي او ناټو ځواکونه چې افغانستان ته د مخالفینو د ختمولو لپاره راغلي وو په پاکستان کې هم له سرخو ګی سره مخامخ دي ددغه حقیقت په نظر کې نیولو سره ددې خبرې یقیني وړاند وینه کیدلی شي چې که اسلامي هېوادونه خپل عسکر افغانستان ته ولیږي نو مخالفینو ته به ددې تأثر په ور کولو کې ناکام شي چې ګویا په افغانستان کې روانه جګړه د اسلام پرخلاف نه ده بلکې معکوسه نتیجه به ولري. لهذا ښه به دا وي چې د افغانستان د جګړې اور نورو اسلامي هېوادو ته ونه غځول شي که الله مکړه افغانستان ته د اسلامي هېواد د عسکرو د لیږلو غلطی وشي نو ددې عواقب به دومره خطرناک وي چې د نړی هیڅ طاقت به ددې د مخنیوی توان نه لري، که د نړی ۴۷ ستر پوځي ځواک لرونکی هېوادو سرتیرې ددې توان نه لري چې د نهو کلو په اوږدو کې به افغانستان کې امن راولي نو په نورو اسلامي هېوادو کې به د امن د قائمولو ضمانت څوک ور کوي؟ چې په یوه داسې منطقی او عملي میکانیزم کار وکړي چې په افغانستان کې هم روانه جګړه ختمه شي او د اسلامي نړۍ په شمول په نورو هېوادو کې هم د جنګ او جګړې سکروټې مړې شي، له انسانیت سره ښېګڼه دا نه ده چې هر چېرته د جنګ میدانونه ګرم، او انسانیت د جنګ په سره بټۍ کې ورټیل وهل شي بلکې له انسانیت سره دوستي او ښېګنه داده چې د عادلانه او منفصانه فضاء له لارې هر چاته خپل حقه حقوق ور کړی شي او په دې توګه د نړۍ انسانیت د جنګ له تورولو خرو وژغورل شي. او نور هېوادونه د جنګ لدې اور نه وساتل شي.

د کومو مواصفاتو خاوندان ولسي جرګې ته د خپلو استازو په توګه واستوو؟

فدا محمد فایض

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah 'WAHDAT'
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmedshahwahdat2@yahoo.com

لیکوال او ژورنالست سید فضل مولا لټون

ما دا خبره دمخه [illegible] او بلکې دا یوازې زما، نه؛ چې د ډېرى هغو افغانانو چې لمر په [illegible] پټوي، نظر دى چې د بن غونډې هیڅ قانوني ارزښت نه درلود. [illegible] غونډې ته:

یوه ډله آی اس آی له پېښوره ورواستوله

دویمه ډله ایراني استخباراتو له تهرانه ورواستوله

دریمه ډله سی آی ای له رومه ورواستوله

او څلورمه ډله د دولت په نامه له کابله ورغله، چې که دا قانوني دولت و نو بیا یې د لرې کولو لپاره ولې نړیوال وچ زور کارول کېده او که دولت نه و نو بیا د دولت نوم ولې ور کول کېده؟

په دې غونډه کې د غونډې د جوړولو مبتکرینو په لوی لاس له هغې پورتنی نیمګړتیا سره سره ددې غونډې تاداو کوړ کېښود، او هغه دا چې:

هغې ډلې ته یې چې د استاد رباني د واکمنی پر مهال یې چاره راکاړله د امتیازاتو دومره دروند بار وتاړه چې نور یې نه شو وړلای.

او طالبان او حزب اسلامي یې په لوی لاس له دولته بهر وساتل. دا یوه سنجول شوی توطیه وه او غوښتل یې په افغانستان کې د جګړې اور بل وساتي چې دوی یې په لوخړو کې خپل مقصدونه ولټوي.

خو له دې ټولو نیمګړتیاو سره بیا هم د افغان اولس یوې غوڅې برخې ددغې نیمګړې غونډې او دهغې د پایلو لړ تر لړه مخالفت ونه کړ او دا اسره یې وکړه ګوندې که ورو ورو قانونیت ته ور دننه شو؛ دوه لویې جرګې جوړې کړای شوې، اساسي قانون جوړ شو، ددولت د درې ګونو قواو تاداو کېښودل شو چې په دې کې د مقننه قوې لپاره د وکیلانو ټاکنی ډېرې مهمې وې؛ خو دا چې د وکالتونو وېش هم د یوناما په لاس کې و، ټاکنې وشوې خو لږ شمېر له قانوني لارې اولسي جرګې ته او همداړنګه مشرانو جرګې او ولایتي جرګو ته ورغلل او ډېر د دروازې پر ځای پر کړکۍ وردننه کړای شول؛ څوک د سیاسي ملحوظاتو په خاطر، څوک د پیسو له لارې؛ خو پارلمان یو داسې پارلمان شو چې لغړ او ببر په زکات کې سره برابر شول د پنځوسو زرو رایو اخستونکی هم وکیل شو او د پنځو سوو رایو اخستونکی هم او د رایو اعتبار یې هم یو شان و. د جهاد رهبران، د خلق د دموکراتیک ګوند قاتل بریتور جنرالان، لویدیځ پلوه سړي او هغه ښځې چې هره ورځ ځانونه په اوو قلمو سینګاروي او نه دې د ویلو هغه څه چې ...

ما فکر کاوه چې دا ځل به له تېرو ترخو تجربو نه په پند اخستنې سره که ډېر نه وي یو څه اصلاحات خورا شي؛ خو کله چې د کابل یا نورو ولایاتو ښارونو او د ښارونو واټونو او کوڅو ته ګورم نو ټول دیوالونه زیاتره دپخوانیو کفن کشانو له عکسونو نه ډک دي. زه تېره اوونی جلال آباد ته ولاړم، زه دا نه وایم ډېری ښو خلکو، رښتینو مجاهدینو هم ځانونه کاندید کړی دي؛ خو څومره چې ما پیژندل نو لویو لویو نهنګانو او تمساح ګانو هم ځانونه کاندید کړی او واړه او لوی عکسونه یې تر سترګو کېدل. دا هغه کسان دي چې د جلال آباد ښار د یوه پخوانی مجذوب غور غوشتو په وینا چې له تورخمه تر انګور تاکه ټول وطن پلاوشي، یوه مړی به ورنه پاتې نه شي نو که دا ټول افغانستان ډالر او یورو شي او ددوی په خولو کې یې ور کړې باور وکړه که به یې د خېټو په یوه کونج کې هم معلوم شي. او بیایې چې پر پوسټرونو لیکل شوي شعارونه وګورې نو راشه که تودیږې.

ما په دغو عکسونو کې یو داسې څوک هم ولید چې کړه وړه یې پر شریعت برابر او کوم شعار یې چې پر عکس لیکل شوی و، په زړه یې منګولی ښخولې دا ځکه، هغه د اسلام له پاره زندانونه تېر کړي، د خدای په لار کې یې هجرت کړی د ننګرهار ډېری غرونه یې له پښو وتلي او ناو په ناو په روسانو او د هغوی په تالي څټو پسې ګرځېدلی، اوونی او میاشتی نه؛ کلونه کلونه یې څراغ ته په ویښه تېر کړي او په لسګونو کتابونه یې یا لیکلی او یا یې په خوږه او روانه پښتو ژباړلي دي "نور په هر حسن و جمال باندې درست دی " خو یو کمی پکې دی چې جیب یې تش دی، لارې یې نه دي وهلي، رشوتونه یې نه دي اخستي، چور چپاول او غصب یې نه دی کړی، بس زما په شان زړی عینکی یې په جیب کې وي، چې چېرته کتاب، اخبار او مجله پیدا کړي ورو شانته یې له جیبه ورپسې راوباسي او ورته ځیر شي. ددې خو زه پخپله شاهد یم چې د جاپان موټرو په دې ګرم بازار کې چې د هر چا تر پښو لاندې دی، زما په شان یو زوړ بایسکل هم نه لري چې که کله هلکان ښوونځي ته تللي وي او دی په کور کې وي چې خپل کهاله ته له نژدې بازاره پرې سودا راوړي، اګر چې ترې پوښتلی خو مې نه دي خو شک مې دی چې بایسکل دې یې هم زده وي؛ ځکه چې نه یې لري څه به یې زده وي. دهغه ټوله شتمني هغه څو پولې دي چې له مرحوم پلاره ورته پاتې دي.

زه دهغه همدې ځانګړنو دې ته اړ کړم چې له خپلو شریفو او مؤمنو خلکو نه وغواړم، چې ورونو او خویندو "رایه " یو ستر الهي امانت دی، که دا امانت مو بېځایه وکاراوه په دنیا کې به یې هم ترخه نتایج په ستر ګو وګورئ او په آخرت کې به مو هم د ګناه یو درونډ پیټی پر شا وړئ، د خپلې رایې امانت دهغه چا په حق کې وکاروئ چې ستاسې د روا هیلو ترجماني کولای شي، ستاسې په درد، دردمند او په خوښی مو خوښ وي هغه چې هم فصیحه ژبه لري او هم پیاوړی قلم، زه ددغو مواصفاتو خاوند د ننګرهار په کچه اولسي جرګې ته کاندید استاد سید فضل مولا لټون ګڼم، د هېواد داسې کتاب پلورنځی به چې په پښتو ژبه چاپ شوي اسلامي کتابونه پلوري نه وي چې دده آثار په کې نه پلورل کیږي، یوازې د مولانا اکبر شاه خان نجیب آبادی "تاریخ اسلام " چې په درې ټوکو کې دی او چې کله ما لوسته نو مبالغه به نه وي چې د هر مخ او هر فصل و باب په لوستو مې ورته د زړه له تله دعاوې کړې دي. خو زما ګیله داده چې زمونږ په هېواد کې د داسې کسانو قدر او قیمت د نشت برابر دی، پس همغه یو څو کسه لیکوالان او فرهنګیان به وي چې ددغسی کسانو په ارزښت پوهېږي، همداسوب دی ښایي ډېر لږ به داسې شوي وي چې زه کله د عزیز خان پر کڅ تیریږم چې د استاد ګل پاچا الفت مزار ته په رسیدو مې یې په حق کې لاسونه د کایناتو ستر رب ته لپه نه شي، په داسې حال کې چې دهغه مزار ته په ډېره لږه فاصله کې د خپل وخت د یوه ستر ستانه د کجوری ملا صاحب (رح) زیارت هم دی خو ډېری وخت ناپامه ترې تېر شم، نو ځکه خو لکه استاد الفت چې پخپله د حضرت سید جمال الدین افغان پر مزار ویلی وو:

دې زیارت کې وینم بل راز تأثیرونه

دلته مه کوئ واړه واړه سوالونه

چې دې فقیر د حضرت استاد الفت پر مزار په خپل یو نظم کې وویل:

د الفت په خپله ژبه درته وایم

د بلبل غوندې په چغو په ژړا یم

"دې زیارت کې وینم بل راز تأثیرونه

دلته مه کوئ واړه واړه سوالونه "

ورونو او خویندو !

"رایه " یو داسې امانت دی چې د اولسونو برخلیک پرې ټاکل کیږي، تاسې وګورئ د اسلام ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپل ځای ناستی نه ټاکي، بلکې دا حق اسلامي امت ته پرېږدي، چې د خپل صوابدید له مخې خپل قیادت وټاکي.

په حقیقت کې د اسلام ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم زموږ پر اوږو د مسؤولیت یو ستر بار را اچولی دی.

ورونو او خویندو !

نن زموږ هېواد د لسګونو او سلګونو مصیبتونو کوربه دی، ۴۶ هېوادو مو په یوه او بله پلمه په خاوره کې پراته دي، هره ورځ د هېواد له کونج

پاتې ٤ مخ

محمد حسن حقیار haqyar@gmail.com

افغانستان د کولتوري یرغلونو لوبغالی

هر هېواد، هر ولس، هره ټولنه او دهر دین او مذهب لارویان ځانته کولتور، عنعنه او ارزښتونه لري، هر چاته خپل کولتور ګران دی، هر څوک د خپل کولتور دساتنې او تعمیم لپاره هلې ځلې کوي.

هره ټولنه د خپل کولتور د خپراوي لپاره پر نورو یرغل کوي او غواړي چې نورې ټولنې او دنورو کولتورونو لارویان دې ددوی کولتور عه اي او ددوی تقلید وکړي.

لکه څرنګه چې د مذهب او دین د خپراوي لپاره دنړۍ په تاریخ کې زرګونه جګړې شوې اولسګونه میلیونونه انسانان یې قرباني شوي دي همداراز د کولتور د خپرولو لپاره هم زرګونه جګړې شوې دي چې په تاریخ کې د کولتوري جګړو په نوم یادېږي.

ډېر داسې ولسونه شته چې خپل کولتور او عنعنه ورته تر هر څه ډېر محترم او ان تر مذهب هم دډېر درناوي وړ دی او ډېر اهمیت ورکوي.

دهر چا، هرې ټولنې او دهرې سیمې کولتور اوعنعنه بېله ده، یو چاته یو شی او یو کار ښه ښکاري او یو بل شی او بل کار ورته ناوړه خو په مقابل کې یې په یوه بله ټولنه کې بیا همدا دیوې ټولنې ښه، بد او هغه ناوړه، ښه ګڼل کېږي، د بېلګې په توګه نن سبا په لوېدیځ کې له پردیو سره هغه جنسي اړیکې او له مخالف جنس سره ملګرتیا چې دداړو خواوو په توافق ترسره شي بدنه ګڼل کېږي همداراز په ځینو هېوادونو کې لواطت او ان له نارینه سره دنارینه اوله ښځینه سره دښځینه واده قانوني بڼه خپله کړې ده، خو په ختیځ او په ځانګړې توګه په افغانستان کې دا ډول جنسي اړیکې خو پرېږده ان له پردیو مېرمنوسره تشې خبرې او ان دهغوی ځادر ته هم کتل دزغم وړ نه دي.

دساینس او ټکنالوژۍ پرمختګ ، د ژوندانه مدني کېدل ، د وخت او حالاتو تېرېدل او اوښتون پر کولتور هم اغېز کوي همدا لامل دی چې ځینې کولتورونه او دځینو کلتورونو برخې هم ثابتې نه، بلکې د بدلون او اوښتون په حال کې دي، ځینې هغه شیان چې پنځه سوه کاله وړاندې په یوه ټولنه کې دود وو نن نشته او ځای یې نورو دودونو او پدیدو نیولی، او ښایي په لرې راتلونکې کې دنن ورځې ځینې موجود دودونه هم خپل ځای نورو ته پرېږدي.

افغانستان هم د ځانګړي کولتور ،عنعنې، ځانګړیو ارزښتونو او دودونو درلودونکی هېواددی، موږ هم ډېر خواږه، معقول ګټور او ددرناوي وړ کولتور او ارزښتونه لرو، زموږ کولتور او عنعنه د نورو له کولتور او عنعنې سره څو توپیره لري یو خو دا چې زموږ کولتورپه اصولو کې ډېر لرغونی دی او ریښې یې ان زرګونو کلونو ته رسېږي. دوهم دا چې کله داسلام سپېڅلي دین د ناپوهۍ تیارې ماتې او دپوهې او لارښووني مشال یې ولګاوه نو زموږ دهغه وخت موجود کولتور ددې مقدس دین دارشاداتو تر چاڼ لاندې راغی او ډېره برخه یې چې ددې الهي دین له لارښوونو او دبشریت له غوښتنو سره یې ټکر نه درلود په خپل حال پرېښودل شو او پاتې یې دنه چلند وړ وبلل شونوپدې توګه ویلی شو چې زموږ کولتور او عنعنه هم تاریخي او هم مذهبي شالید لري.

زموږ د کولتور بله ځانګړنه داده چې ښایي دوخت او حالاتو اوښتون او د ژ وندانه موډرن کېدلو به یې پر فروعو اغېز کړی وي خو په اصولو کې یې هېڅ بدلون نه دی راغلی او دسلګونواوان زرګونو کلونو په تېرېدو هم په خپل پخواني حال ولاړ دی چې په دې اړه د بېلګو وړاندې کول به اصلي موضوع رانه هېره کړي.

وړاندې مو هم وویل چې د بل هر هېواد او هرې ټولنې په څېر افغانستان هم ځانته سپېڅلی مذهب، کولتور او منل شوي ددرناوي وړ ارزښتونه لري .داسې بډای کولتور چې د بشریت د فطري غوښتنو ښه انځورګر یې بللی شو، داسې جامع او هر اړخیز کولتور او ارزښتونه چې دډېرو نورو ولسونو لپاره دلارې مشال وو او تل نورو زموږ تقلید کړی دی، تل یې زموږ د کولتور په رڼا کې خپل ژوند پرمخ بیولی دی خو له بده مرغه چې نن زموږ دهمدې کولتور د له منځه وړلو لپاره له هرې خوا پر موږ کولتوري یرغلونه پیل شوي دي ، له هرې خوا ناولي لاسونه رااوږده شوي او غواړي چې موږ له خپل څو زره کلن کلتور نه پردي او پر ځای یې خپل ناوړه ،لوڅ له خرافاتو، توهماتو، شرک او بت پالنې ډک کولتور پر موږ وتپي.

افغانستان په خپل تاریخ کې هېڅکله هم تر دومره کلک کولتوري برید لاندې نه وو راغلی لکه نن چې راغلی دی دا نن چې افغاني چینلونه بربنډې نڅاګانې، د افغاني غیرت، کولتور او اخلاقو ضد له بې حیایی ډکې هندي ډرامې خپروي دا کوم تصادف او بې غرضه کار نه دی، بلکې ددې تر شا ډېر ژور اهداف، ډېر ژور فکرونه او ډېر ژور چینلونه کار کوي. هندوان ، ایرانیان، تاجکستانیان او ... غواړي چې د خپلو افغانو برېځو له لارې دلته خپل ناوړه کولتور دود کړي،هند غواړي چې دلته هغه کلتور دود کړي چې دافغانانو له دیني ګټو او ملي ارزښتونو سره په ټکر کې دی. هغه ډرامې رالېږي چې ټول اخلاقي نورمونه او اصول پکې تر پښو لاندې شوي او ان یو با احساسه افغان یې له خپلې کورنۍ سره یو ځای لیدلی هم نه شي.

زه باور لرم چې په افغاني چینلونو کې خپرېدونکې هندي ډرامې دافغاني کولتور خو لا پرېږده ان دهندي کولتور وینډوبې هم نه شي کولی، ځکه څومره چې مالوستي او اورېدلي دي هېڅ هندي دا نشي زغملی چې دهغه خور، لور او یا مېرمن دې له خپل ملګري امېندواره شي او هغه دې ورته ان تندی هم تریو نه کړي همدا راز هېڅ هندي به دهغې دمېرمنې، خور، لمسۍ... د ناروا اړیکو له لارې زېږېدلی کوچنی د خپل سکه ورور، لمسي ،زوی او یا وراره په توګه و نه مني خو پدې ډرامو کې همداتمثیل او تلقین کېږي.

دا ډرامې زموږ پر ټولنه ډېر منفي اغېز کوي، همدا اوس زموږ د ټولنې شاوخوا اویا سلنه ناپوهه ده په ځانګړې توګه ځوان پاټکی (طبقه) خو یې همدا اوس تر اغېز لاندې راغلی دی زموږ اکثره ځوانان پرته له دې چې د کار پیل ، پایلو او انګېزو ته وګوري ړوند تقلید کوي.

زموږ له خپل تاریخ څخه ناخبره ځوانان ډېر ژر د نورو پېښې کوي په ډېر کم وخت کې یې حرکات، جامه، چلند هر څه واوړي، له لسو کالو ډېر دلته د ډیسکو راج وو، وروسته چې ټیټانیک فلم راووت په اتومات ډول هر څه ټیټانیک شول، ټیټانیک دهر ښار میشتي افغان ځوان په وینه کې ګډ او په رګونو کې وځغلېد، ټول ژوند ټیټانیک شو، دټیټانیک مینه لا په زړونو کې وه چې سلمان خان په تېرى نام کې د وېښتوله نوي ستایل (ډول) سره راڅرګندشو، میاشت لانه وه پوره چې دوېښتو خپل ملي او افغاني ډیزاین پاتې او له نیم څخه ډېر ځوانان تېرى نام شول.

او اوس خو دپرېنا اوتولسي د راج اوباج دوره ده .دلته افغان بانکونه له هغو پیسو څخه چې دوږي اوتږي افغان ولس له جیبونو یې وباسي لکونه ډالر پرېنا ،ویدیا اوتولسي ته ددې لپاره ورکوي چې دبانک په اشتهار کې یې ځان وښیي.

زموږ ځوانان له دې حقیقت څخه خبر نه دي چې موږ خپل بډای کولتور، دمنلو وړ عنعنه او ویاړ من تاریخ لرو. افغانان هېڅکله هم کور کرانه او ړانده مقلدین نه وو، کور کرانه، بې سنجشه په پټو سترګو او ړوند تقلید د انسان نه ، بلکې دبیزو (شادي) کار دی.

افغانستان د کولتورونو دتورېد نه، بلکې د صدور ځای وو، موږ تل کولتور او ارزښتونه صادر کړي دي موږ نورو ته لارښوونه کړې ده او د ژوند ګټورې لارې چارې مو ورښوولې دي.

موږ له همدې هندوانو سره مرسته کړې ده چې د ناپوهۍ توهماتو، په سحر، جادو طلسم او کوډو د باور له تور تمونو څخه دپوهې، شعور تدبر او درایت رڼا ته راشي. موږ هغوی ته دا درس ورکړی دی چې په پټو سترګو تقلید مه کوئ، بلکې د عقل په رڼا کې د عقل په حکم ژوند وکړئ، موږ هغوی ته تفهیم کړې ده چې تل باید منفعل او په نورو پسې روان ونه اوسي دهغوی ذهن .فکر، عقیده او باور مو ټومبلی چې انسان (اشرف المخلوقات) ولې د حیوان (ځاروي) عبادت وکړي، ولې یو انسان دومره ناپوهه او دعقل، شعور ،تمیز او تفکر سترګې یې ړندې شي چې غوا خپل خالق، مالک رب او اله وبولي هغه وپالي ، عبادت یې وکړي، سجدې ورته وکړي او د خپلو اړتیاوو او حاجاتو د پوره کولو دعا ورته وکړي ؟.

موږ دهند په شمول د نړۍ په ګڼو هېوادونو ځمکنۍ او کولتوري واکمنۍ او امپراطورۍ درلودې او هندوان زموږ پر کولتور ویاړېدل، هغوی زموږ تقلید کاوه، هغوی زموږ د کولتور پر حقانیت قانع وو.

له مطالعې، ژور فکر او ارزیابۍ وروسته یې راسره زموږ کلتور ومانه، میلیونونه هندوان مسلمانان او زموږ د کولتور لارویان شول، هغوی مو په زور نه، بلکې د کولتوري او مذهبي درسونو له لارې مسلمانان کړې دي همدا اوس هم هندي مسلمانان خو پرېږده ان هندوان زموږ پر کولتور، ملي غرور، افغانیت، وفا ، صداقت، سوچه توب ، خلوص ، هوډ، قاطعیت، غیرت، سرښندنې،یوه وینا او په خپلې وینا پر عمل ویاړي، او ان زموږ پر کولتور فلمونه او ډرامې جوړوي چې ښې بېلګې یې د (خداه ګواه، قرباني او کابلي یا عبدالرحمن پستې والې) په نوم فلمونه دي نو نن ولې افغان ځوان په پټو سترګو او بې سنجشه د بیزو په څېر مقلد شي.

وړاندې مو هم وویل چې اکثره افغانان په ځانګړې توګه ښځینه پاټکي نالوستي دي له خپل دین، ددین له احکامو، مزایاوو، ځانګړنو او دیني او دنیوي ګټو څخه خبر نه دي په اسلام کې د کورني ژوند له احکامو، ادابو او اصولو خبر نه دي او نه پر دې پوهېږي چې اسلام تر بل هر دین او مذهب ډېر اسانه، هر اړخیز خوږ او د بشر له فطري غوښتنو او تمایلاتو سره برابر دین دی، دوی چې دشپې په هندي ډرامو کې سالګره او یا د واده کوم مراسم ویني نو سبا یې پخپل ژوند کې عملي کوي او دناوې او زوم لکۍ یې یو پر بل پورې تړلې وي، زه نه وایم چې هند ښې ډرامې او یا روزونکي فلمونه نه لري او نه هندي کولتور له یوې مخې نفي کوم ،نه ، بلکې هندوان ځینې ډېر ښه عادات دودونه او رواجونه لري له افغانانو سره ګڼ تاریخي او کولتوري مشترکات لري همدې بالیبود پخوا د (راضیه سلطان، خدا ګواه، ښکاراو ...)په نوم ډېر ښه تاریخي او روزونکي فلمونه جوړ کړي دي او لکه وړاندې مو چې وویل باور لرو چې دا ډرامې دهندي کولتور انځور ګري او وینډوبې هم نه کوي خو دا وروستي تولیدات یې چې موږ ته رالېږلي ډېر مبتذل، له فحشا ډک او له حقایقو لېرې دي.

دا یواځې هند نه دی چې دلته یې کولتوري یرغل ته متې رابډ وهلي ، بلکې لکه پورته موچې ورته اشاره وکړه ایران، تاجکستان، ازبکستان ،مسکو او ترکیه هم له دوی څو قدمه وړاندې دي دوی ټولو کولتوري یرغل او بې لارې توب پیل کړی، موخه یې ګډه خو دیرغل ډول یې توپیر لري.

همدا اوس ایران دلته ګڼو تلویزیوني چینلونو، راډیو ګانو، اخبارونو، مجلو کولتوري ټولنو ته پیسې ورکوي او ان ځینې یې خپله جوړ کړېدي چې ددوی کولتور دود کړي، ددوی عنعنو او غوښتنو ته وده ورکړي او ددوی ژبې ته کار وکړي.

ایران دافغانستان هغه سیمې چې ددوی په ګاونډ او سرحد کې پرتې دي خپله کولتوري حوزه بولي هلته یې ډېر نفوذ او ډېر کار کړی دی، سړی هغه وخت دایران د کولتوري یرغل پر اغېزو او دایرانیانو پر بریاوو پوره خبرېدلی شي چې یو ځل هرات، نیمروز، دایکندي، د کابل ښار لوېدیځ، مزار، بامیانو، بهسودو یا په ټوله کې هزاره جات ته سفر وکړي.

لنډ مهاله نکاح یامتعه په افغانستان کې آن زموږ دشیعه ورونو ترمنځ هم هېڅ دود نه وه خو اوس دایران له برکته؟؟ دا نکاح هم دلته دودشوې اوناوړه پایلې او په بېوزلو مېرمنو ناوړه اغېزې یې خپرونواو رسنیو ته راووتې.

په دې سیمو کې نور خو پرېږده ان دواټونو، پارکونو او ښوونځیو نومونه ایراني دي هلته ټوله جامه ایراني، موسیقي،ډرامې او فلمونه ایراني ،لهجه او

پاتې ۴ مخ

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله کامه وال

اسلامي نوم: ډاکتر غرینیه

د هېواد نوم: فرانسه

د فرانسې د پارلمان د غړي مسلمانېدل

یوه فرانسوي ډاکتر په سمندري بېړۍ کې سفر کاوه، مصر ته نږدې له بېړۍ نه کوز شو او سیده د یو مسلمان عالم څنګ ته لاړ، او هلته یې د نوموړي دیني عالم سره له خبرو اترو وروسته مسلمان شو، دده نوم ډاکتر غرینیه و، نوموړی د فرانس د پارلمان منتخب غړی و، د اسلام له قبلولو وروسته یې د پارلیمنټ له غړیتوب استعفی ورکړ، د پاریس ښار یې پرېښود او له ښاره لیرې په یوه کلي واله سیمه کې ډېره شو، او هلته یې د خلکو خدمت ته ملا وتړله شپه ورځ دهغوی په خدمت کې بوخت شو. محمود مصري ترې د مسلمانېدو پوښتنه وکړ دهغه په کور کې له هغه سره په یوه لیدنه کې پوښتنه وکړه چې تاسې ولې اسلام ومانه؟

ډاکتر غرینیه په ځواب کې وویل: زما د اسلام د راوړلو لوی سبب صرف د قرآن کریم یو آیت دی.

پوښتنه: آیا تاسې له کوم مسلمان عالم نه قرآن کریم لوستلی دی؟

ځواب: نا ما تراوسه له کوم مسلمان عالم نه قرآن کریم نه دی لوستلی.

پوښتنه: بیا نو تاسې څنګه مسلمان شوئ؟

ځواب: ما زیات وخت په سمندري جهازونو کې سفرونه کړي دي، زما د عمر زیاته برخه د سمندر د اوبو او آسمان ترمنځ تېر شوې دي، یوه ورځ په سفر کې ماته د قرآن کریم یوه فرانسوي ترجمه په ګوته راغله، هغه چې ما د تلاوت لپاره خلاص کړ نو د سوره النور په ۴۰ آیت مې سترګې واګیدلې چې په هغه کې د سمندري نظارې کیفیت بیان شوې و.

ما دا آیت په ډېر غور او دقت سره ولوست، په دې کې چې د سمندري نظارې کوم کیفیت بیان شوې و هغه زه حیران کړم، ما په زړه کې وویل چې شاید محمد صلی الله علیه وسلم هم زما په څېر شپه، ورځ په سمندري بېړیو کې سفرونه کړي وي، زه د هغه په دې خبره هم ډېر حیران وم چې هغه د لار ورکو آواره توب او دهغوی د هلو ځلو حاصل یې څنګه په لنډو الفاظو کې بیان کړی دی، ګویا هغه پخپله د شپې د وریځو په تیاره او د طوفان په موجونو کې پر جهاز ولاړ دی او د یو ډوبېدونکي سړي وارخطایي پخپلو سترګو ویني. زه ښه پوهېږم چې د سمندري خطرونو لوی نه لوی ماهر هم په دومره لنډو الفاظو کې د سمندري خطرونو داسې کامیاب انځور نشي وړاندې کولی. مګر څه موده وروسته ماته معلومه شوه چې محمد صلی الله علیه وسلم یو اُمي شخص و، هغه پخپل ژوند کې یوه ورځ هم په سمندري بېړۍ کې سفر نه دی کړی، له دې معلومات نه وروسته زما زړه ګواهي ورکړه چې دا د محمد صلی الله علیه وسلم خپلې خبرې نه دي بلکې دهغه الله خبرې دي چې د شپې په تیاره کې د هر ډوبېدونکي حالت ویني، لدې وروسته زما په وړاندې لدې پرته بله لاره نه وه چې د اسلام دین ومنم او مسلمان شم.

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال

مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

داړیکي شمیره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

ډیزاین: خواجه وحیدالله

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

د کومو مواصفاتو خاوندان ولسي جرګې ته ....

کونج نه د ویر ژړا تر غوږو کیږي، د یوه لوی کلي قتل عام فقط په یوه I am sorry یعنی تأسف کوم کې خلاصه شي خو اولسي جرګې ګونګه روژه نیولی؛ نو په دغسې حالت کې هغه چاته رایه مه ورکوئ چې ببرته مو پر غوښو او هډوکو خولې لګوي او وینې مو لکه ژوره هسې خیښې، ستاسې په وینو یې په هېواد کې بلډنګونه جوړ کړل او نخچی یې ورته له اروپا او امریکا، جاپان او هانکانګ او ... نه راوړي، په امریکا او اروپا او استرالیا کې یې کورونه جوړ کړل، او سبا ته به بیا ستاسې د بدې ورځې ملګري هم نه وي، تاسې به د حوادثو په سره بټۍ کې سوځئ خو هغوی به له هوا نه درته لاس خوځوي چې:

د څمکې خلکو خدای پامان

نو راځئ څانونه خدای او رسول ته مه کوز ګوري کوئ، پر خپل وجدان پښې مه ږدئ، دا څومره ناروا خبره ده چې په سلو جرمونو ککړ کس ته رایه ورکړئ؛ له خپل برخلیک سره لوبې وکړئ او خدای و رسول له څانه خفه کړئ.

نو راځئ ! غاصبانو ته رایه مه ورکوئ

سرې خورو، ته رایه مه ورکوئ

اختلاسګرو ته رایه مه ورکوئ

غاصبینو ته رایه مه ورکوئ

د مخدره موادو قاچاق وړونکو ته رایه مه ورکوئ

زانیانو او شراب خورو ته رایه مه ورکوئ

د منحرفو عقایدو پیروانو ته رایه مه ورکوئ

د استعمار غلامانو ته رایه مه ورکوئ

هغه چاته رایه ورکړئ چې خدای جل جلاله تـه مو پرې غاړه هسکه وي او په هغوی کې دا جرأت وي چې سبا ته په پارلمان کې ستاسې له اعتقاداتو او ملي ګټو نه ددفاع غږ اوچت کړای شي او ستاسې د مشروعو هیلو ترجماني وکړای شي. داسې مه کوئ چې مزې او چړچې به دهغوی وي او ددنیا او آخرت ملامتي ستاسې.

پیام تبریکی
دفتر حوزهٔ ولسوالی پغمان

به نماینده گی از مردم مجاهد پرور ولسوالی پغمان، قوماندانان جهادی، مجاهدین مؤمن، جوانان متعهد، وارثین شهدا و اعضای دفتر ولسوالی پغمان انتخاب مجدد برادر مجاهد و نستوه الحاج عبدالهادی ارغندیوال را از طرف شورای رهبری یک تصمیم مدبرانه، با حکمت و بموقع مطابق به اوضاع و احوال سیاسی و اجتماعی کشور دانسته به همهٔ مجاهدین و اعضای متعهد حزب اسلامی در سرتاسر افغانستان تبریک و تهنیت عرض میداریم و برای برادر ارغندیوال صاحب موفقیت در امور محوله از خداوند جل جلاله استدعا می نمائیم امیدواریم تحت رهبری خردمندانهٔ برادر مجاهد ما آرمانهای مجاهدین، شهدا و ملت غیور و مجاهد پرور افغانستان مطابق به قوانین و فرهنگ اسلامی تحقق یابد به امید صلح، آبادی و ترقی افغانستان عزیز.

اسدالله "شاهد"

سرپرست دفتر ولسوالی پغمان

پیام تبریکی
جبههٔ ولسوالی ماستان ولایت غزنی

ما ملیت شهید پرور اعم از قوماندانان و مجاهدین واقعی حماسه آفرین و کفر شکن حزب اسلامی پرافتخار در افغانستان انتخاب مجدد مجاهد نستوه و برادر عالیقدر الحاج عبدالهادی ارغندیوال را به حیث رئیس حزب اسلامی از طرف شورای محترم رهبری حزب اسلامی به دفتر مرکزی و به همهٔ اراکین و مسؤولین محترم و به همهٔ ملیت شهید پرور افغانستان تحریر تبریک و تهنیت عرض می کنم از بارگاه خداوند جل جلاله توقعات بیشتر در پیشبرد اهداف مقدس اسلامی و امورات سیاسی و کشور عزیز خواندیم برای ایشان.

(ومن الله التوفیق)

سلطانعلی جویا

معاون رئیس جبهه ولسوالی ماستان و نماینده فعلی آن جبهه

افغانستان د کولتوري یرغلونو ...

دخپرونو ژبه ایرانی، کورنی او بهرنی چاپیریال ټول ایرانی دی، د اکثرو ادارو، ټولنو، موسسو په دفترونو او ان پر دولتي ادارو کې زموږ دملي مشرانو پر ځای د ایرانیانو عکسونه ځړېږي. هند خو بیا هم ښه دی زموږ پر خاوره، او ملي شخصیتونو دعوه نه کوي ایران خو مو پر خاوره هم تېری کړی، پر کولتور هم او پرملي اوعلمي شخصیتونو مو هم دعوه کوي.

پر افغانانو یې هیڅ خوښي او ویاړ پیرزو نه دی، افغانستان ته که څوک افغان شیعه (نېکپا) هم ویاړ راوړي نو دوی یې نه زغمي او د نایي او دم نوم ورکوي. دوی د افغانانو ترمنځ د نفاق او تعصب اور ته لمن وهي.

دا هندی ډرامې او ایراني پروګرامونه افغان ولس د ماډرېږ (نوښت خوښو او منځلارو) او تونـد لارو پـه نوم وېشي.

داسې ښکاري چې دولت او په ځانګړې توګه د اطلاعاتو او کولتور وزارت هندي یرغل ته څه نا څه متوجه دی او یو ځل یې ددې ډرامو دمخنیوي ناکامه هڅه هم وکړه، خو ایراني یرغل ته یې هیڅ پام نه دی، دولت دې ته پام نه کوي چې ددوی تر زنې لاندې په دربېمه کارته کې دخاتم النبیین په نوم (دوهم قم) کې څه ښوول کېږي، کوم پروګرامونه پرمخ وړي، تمدن تلویزیون څه خپروي، ددې ودانیو له لسو میلیونو ډالرو ډېر لګښت چا ورکړ؟ څکه چې تر څراغ لاندې تیاره وي.

موږ یو ځل بیاپر دولت غږ کوو چې ددې یرغلونو مخه ونیسي، دافغانانو تاریخي سوچه او ویاړمن کلتور دې له دې توپانونو وژغوري ، کاذب مصلحت او سازش ته دې اهمیت نه ورکوي ، ملي او دیني ګټې دې د اشخاصو تر خوښی نه قربانوي، دافغانانو دملي هویت، دین، کولتور، ارزښتونو، ملي او دیني ګټو په مقابل کې دې دهند، ایران او تاجکستان هیڅ پروا نه کوي او په کلکه دې ددې یرغلونو پر وړاندې سپر شي.

له ملت څخه مو هم هیله ده چې که دولت په دې اړه څه نه کوي، له غفلت، سستی، تنبلی او کاذب مصلحت څخه کار اخلي او د څوکی او اقتدار ددوام لپاره نورو ته حق السکوت ورکوي نو دوی دې پخپله ددې هجوم مخه ونیسي، کم تر کمه دا ډرامې او ایران پلوه پروګرامونه دې نه ګوري، دهغوی خپروني دې نه اوري، ورسره دې کر که وښیي او ملت دې په دې اړه راوېښ کړي.

قرار است حامد کرزی ...

را تقاضا کرده است که عضو شبکه القاعده نه بوده و به گفته وی تروریست نیستند.

واشنگتن پست گزارش می دهد که ریچارد هول بروک نماینده خاص رییس جمهور اوباما در امور افغانستان و پاکستان روز سه شنبه با مقامات ملل متحد ملاقات کرد و به آنها تاکید نمود که در حذف این نام ها اقدام نمایند.

گزارش می نویسد، هول بروک امیدوار است که در رابط با حذف این فهرست پیش از کنفرانس بین المللی که در اواخر این ماه به هدف تامین ثبات در افغانستان در کابل برگزار می شود، توافق صورت خواهد گرفت.

قطعنامه ۱۲۶۷ ملل متحد دارایی های مقامات ارشد طالبان و القاعده را منجمد ساخته و بر مسافرت آنها محدودیت وضع می نماید.

اما تلاش های اخیر حکومت افغانستان جهت گفتگو با طالبان شک و تردید های را افزایش داده است که چه کسانی شامل این فهرست خواهند بود، و چه کسانی از آن حذف خواهد شد.

واشنگتن پست می نویسد که ایالات متحده امریکا مخالف حذف نام تعدادی از عناصر افراطی طالبان به شمول ملا محمد عمر از این فهرست می باشد.

اما دفتر رییس جمهورحامد کرزی ماه گذشته اعلان کرد که سازمان ملل با حذف آن عده از مقامات طالبان که با القاعده و سایر گروه های تروریستی، ارتباطی ندارند، موافقه کرده است، اما روزنامه می نویسد که مقامات رسمی ملل متحد در مورد کسانی که از خشونت دست کشیده، قانون اساسی افغانستان را پذیرفته و هر نوع ارتباط با طالبان و القاعده را قطع می نمایند به شواهد بیشتری نیاز دارد.

تېره میاشت تر زرو زیات ...

په دې راپور کې ویل شوي، چې تېره میاشت، یعنی په جون کې تر ۱۲۰۰ زیاتې امنیتي پېښې وشوې، چې له ۲۰۰۲م کال راهیسې تر ټولو زیات شمېر دی، ملکي تلفات هم په کې زیات وو.

تېره میاشت په افغانستان کې ۲۱۲ملکیان وژل شوي، په دې میاشت کې د بهرنیو ځواکونو تلفات هم زیات وو، چې ۱۰۳ بهرني عسکر ووژل شول، چې شپېته یې امریکایان وو .

راپور وایي، وسلوال سخت درېځې د ملکیانو خوندیتوب ته درناوی نه کوي، خو بهرني ځواکونه هم په تېرو شپږو میاشتو کې د ۲۱۰ ملکیانو د وژنې مسوول دي .

د فرانسې خبري اژانس په حواله، ناټو او امریکا په افغانستان کې یولک او ۴۰ زره عسکر لري، چې لس زره نور به په را روانو اوونیو کې ور زیات شي او دوی به د ترورېزم په وړاندې په مبارزه کې برخه اخلي .

د افغانستان د حقوقو د څار اداري یا ARMپه راپور کې دا هم ویل شوي، چې د طالبانو له خوا د جوړو شوېو بمونو چاودنو زیات ملکي افغانان وژلي او ټپیان کړي .

د راپور له مخې د روان میلادي کال په لومړي نیمایي کې د طالبانو ځانمرګو بریدونو په دوېم کتار کې زیاته مرګ ژوبله اړولې، چې ۱۲۷ ملکیان یې وژلي .

دغه نا امني په داسې حال کې زیاته شوې، چې د امریکایي او ناټو ځواکونو نوي عمومي قوماندان جنرال ډېوډ پېټرایس خپله دنده پیل کړې او د پالیسی د بدلون تمه ورڅخه کېږي، خو دې بدلون ته وخت شته .

ګل آغا شېرزي او حاجي ...

خورا خراب شوی دی تر دې چې خیني ولسوالی لکه خوږیاني او شېرزاد کله سقوط کوي نو د ننګرهار مقامات ورته مناسب امنیتي ځواکونه نشي وررسولای. د جلال اباد ښار په زره کې ځانمرګي بریدونه هم کېږي او موده وړاندې د ننګرهار په هوایي ډګر د دولت وسلوالو مخالفینو خونړی برید هم وکړ چې هوایي ډګر ته ننوتې وو او مرګ ژوبله یې رامنځ ته کړه.

په ډېرو ولسوالیو کې په نریوالو ځواکونو د کاڼو ګوذارونه هم کېږي چې د کامې په ولسوالي کې د ټول افغان خبریال تېره اونی پخپله ولیدل چې د سنګر سرای په بازار کې په امریکایي ځواکونو - چې د کونړ په سیند کې د خپلو دوه لاهو شوو ملګرو پسې ګرځېدل - د کاڼو ګوذارونه شوي و چې بیا یې د برید کونکي پسې د سنګرسرای بازار شاوخوا ګرځېدل.

د جلال اباد په ښار کې هم د کورنی جګړې د مهال حالت مخ په خپرېدو دی. یو شمېر موټر چلونکو په خپلو موټرو د قوماندانانو او زورواکو انځورونه ځړېښ کړي دي او که ملامته هم وي نو بل ته کنځاوې او بدرد وایي او په خپله مخه ځي.

داسې رپوټونه هم شته چې موده مخکې د طالبانو د کویټې شورا ګیله کړې وه چې د افغانستان په ختیځ او په ځانګړې توګه ننګرهار کې یې عملیات ښه نه دي روان نو څکه وسلوالو عملیات ګړندي کړي چې د خپلې مشرتابه ګیلې ته ځواب ووایي.

ناټو ځواکونو د ټریاکو ...

که په دوی دا رنګه بندیزونه ولګول شي نو پر اقتصاد به یې ناوه اغیزه وکړي .

د کونړ ولایتي شورا وکیل نصرالله خان ساپي وویل، د کونړ اوسیدونکي د کمو څمکو خاوندان دي او یوازې د غنمو او جوارو فصل کړي.

دی وایي، نړیوالو تر اوسه د کوکنارو د کروندې نه کرلو ته افغان څمکوال هڅول، هغه چې افغانانو بند کړل اوس پرې د جوارو کرونده بندوي.

ساپي وویل، دوی د کونړوالي او د بهرنیو ځواکونو مشرانو سره د ستونزې د حل په اړه خبرې کول غواړي.

ده ده په وینا، دولت اونړیوال ځواکونه باید د ولسي وګړو لاسنیوی وکړی او له هغوی سره مرستې وکړي، چې مرسته نه شي کولای نو خلک دې نورو ستونزو نه مخامخ کوي.

نصرالله ساپي وویل، که چیرته نړیوال ځواکونه په خلکو د جوارو کرکیله بنده کړي، نو د خلکو او دولت تر منځ به نوره فاصله هم زیاته شي.

د کونړ والي سید فضل الله وحیدي بیا وایي، د سرک غاړې سره نږدې که چیرته د لوړو جوارو پر ځای د جوارو داسې تخمونه وکرل شي، چې هم په کې وسلوال طالبان کمین نه شي نیولی او د لوړو جوارو څخه ښه حاصل ورکوي، دا یوه ښه خبره ده خو ده داسې کومه خبره نه ده اوریدلې، چې ګنې نړیوالو ځواکونو دې خلکو ته په چوړلټه توګه د جوارونه کرلو امر کړی.

په ختیځو ولایتونو کې د نړیوالو ځواکونو په مطبوعاتي دفتر کې افغان کارکوونکي سباوون هوتک وویل، چې دوی یوازې خلکو ته د ټیټ قد لرونکو جوارو مشوره ورکړې او داسې یې چاته نه دي ویلي، چې جوار مه کرئ.

نړیوال ځواکونه هیڅکله داسې کار نه کوي، چې عامو خلکو ته اقتصادي او نورې ستونزې پیداکړي، بلکې دوی د دې دپاره افغانستان ته راغلي چې افغانانو ته اسانتیاوې برابرې کړي.

د یادوونې وړده، چې د جوارو د تېر فصل پر مهال د پیچ درې او په نورو ولسوالیو کې وسلوالو طالبانو په جوارو کې نړیوالو ځواکونو ته کمینونه نیول او په کې یې ورته مرګ ژوبله اړوله.

امریکا د ستراتیژیکې ماتې ...

ښه بدیل دا دی چې افغانستان تجزیه کړي.

د دایکنډي والي سلطان علي اروزګاني وایي، افغان اولس یو و، یودی او یوبه وي، هیڅ پردي لاسونه دا ولس نشي جلاکولای. دی زیاتوي که په دې خاوره کې جنګ هم دی؛ خو ددې هېواد تجزیې ته اړ تیا نشته.

نوموړی وایي دا په استخباراتي کړیو پورې تړلي نظرونه اوځرګندونې دي. بل لورته په ولسي جرګه کې دبلخ د خلکو استازي ډاکټره ګلالۍ نورساپی وایي: دا ځرګندونې جنایتکارانه دي اودا په ښکاره ډول سره ددې هېواد په عرضي تمامیت کې لاسوهنه ده.

نوموړې وایي دا دیوه ډیپلومات نظراو فرمایش دی، چې دا ډول فرمایشونه په دې هېواد کې نشي پلي کېدلای.

ساپی په دې باور ده چې داډول ځرګندونې دافغانانونو غوسه اوحساسیتونه راپاروي، نو دا ډیپلومات باید له افغانانو ښښنه وغواړي.

دساپی په وینا امریکا او دامریکا ولس باید دهغه چا خوله وتړي، چې دولسونو په منځ کې دنفاق اور ته لمن وهي.

خروج قبل از وقت از ...

از وقت از افغانستان، باعث بازگشت طالبان در قدرت خواهد شد .

به گفته او، اگر نیروهای بین المللی در یک فرصت زود افغانستان را ترک کنند، طالبان دوباره در این کشور حضور گسترده خواهند یافت و افغانستان باز هم به پناه گاه امن گروه های تروریستی مبدل خواهد شد.

گروه های که به گفته وی، برای حملات تروریستی بالای امریکای شمالی و اروپا تلاش دارند.

راسموسن هم چنان اشاره به این کرد که بازگشت طالبان، باعث بی ثباتی پاکستان که با سلاح هسته یی مجهز است، نیز خواهد شد.

اظهارات منشی عمومی ناتو، پس از دیدار روز دوشنبه وی با دیوید کامرون صدراعظم بریتانیا در لندن صورت گرفت .

دفتر آقای کامرون پس از این ملاقات اعلامیه را پخش کرد و گفت :

"صدراعظم بریتانیا به صورت واضح گفته است که افغانستان در اولویت پالیسی خارجی و امنیت ملی بریتانیا قرار دارد. "

دیوید کامرون هفته گذشته به وکلای کشورش گفته بود، امیدوار است تا نیروهای بریتانیایی را در پنج سال آینده در کشور خودشان ببیند.

در حال حاضر ۱۴۰ هزار عسکر امریکایی و ناتو در افغانستان حضور دارند و گفته می شود که ده هزار تن دیگر در هفته های آینده وارد افغانستان خواهند شد.

د کابل ۵ میلیونه نفوس او ...

وخت کې د ګرمی، ناپاکو اوبو او ناپاکو خوړو له امله ناروغان کیږي، دوه روغتونونه ورته کافي نه دي او خلک غریب دی، د خصوصي روغتونونو فیس نه شي ورکولی ".

د کابل ښارګنې شمېر کورنی، د دوی ناروغ ماشومان په کابل کې د ماشومانو د درملنې یوازینې دولتي روغتون ته وروړي .

د دې روغتون ډاکتران وایي، چې هر کال په دې موسم کې د هوا د ګرمي او د چاپیریال د ککړتیا له امله اکثره ماشومان د نس ناستې په ناروغی اخته کیږي خو پېښه ناروغی د اندېښنې وړ نه ده او دوی ورته تدابیرنیول دي.

د چارو کارپوهان وایي، دولت او په تېره د روغتیا وزارت باید داسې وضیعیت ته، چې هر کال تجربه کیږي باید مخکې له مخکې یوازې په دولتي روغتونونو کې نه بلکې په خصوصي روغتونونو کې هم تدابیر ونیسي.